



د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



انجینر محب الرحمن « خطیبي »

د نشر نیټه : 9 اګست 2015 م

# زه دعا درته کوومه

آباد به شـــــی وطنه زه دعا درته کوومه
اوس سوځی زه دی وینمه ژړادرته کوومه
دښمنه تا تبا کړو هم دی اور هر خوا بل کړی
دوزخ په اور کی وسوځی خیرا درته کوومه
ویر او مـــاتم نه کړمه وطنه نور به نه ژاړم
اوښکی پاکوومـــه زه خنـــدا درته کوومـــه
غم به لتا ورک شی زه په دی باندی یقین لرم
زخمـــــونه به علاج شی زه دوا درته کوومه
که لری که نیږدی یم زړه می تا پسی تپیږی تل
هر خوا دی دښمنان دی زه سودا درته کوومـــه
عیب زه نه ګڼمه چی لتا غمونه ورک کړمه
که ته پی خوشالیږی زه ګدا درته کوومــــه
لاسونه می جیګ کړی استدعا ته صبح و شام
خدایه پاکـــه واوره واویلا درته کوومـــــه
مین یم زه محب وطنه ستا همیش خادم یمـــه
قسم دی تر لــــــحده زه وفا درته کوومـــه

***

محب الرحمن « خطیبي»

www.said-afghani.org بازګشت به صفحه اصلی